# قسم په الله که چېرته ستا له امله الله يو سړي ته لار وښيي دا درته له سرو اوښانو غوره ده

له سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د خيبر په ورځ وفرمايل: «لَأُعْطِيَنَّ هَذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ، يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ»، قَالَ: فَبَاتَ النَّاسُ يَدُوكُونَ لَيْلَتَهُمْ أَيُّهُمْ يُعْطَاهَا، فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُو أَنْ يُعْطَاهَا، فَقَالَ: «أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ؟» فَقِيلَ: هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ يَشْتَكِي عَيْنَيْهِ، قَالَ: «فَأَرْسِلُوا إِلَيْهِ»، فَأُتِيَ بِهِ فَبَصَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَيْنَيْهِ وَدَعَا لَهُ، فَبَرَأَ حَتَّى كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهِ وَجَعٌ، فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ، فَقَالَ عَلِيٌّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا؟ فَقَالَ: «انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الإِسْلَامِ، وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللَّهِ فِيهِ، فَوَاللَّهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا، خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ يَكُونَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ». «سبا ورځ به بيرغ هغه چاته ورکوم چې په لاسونو به يې الله فتح وکړي، دی هغه څوک دی چې د الله او د هغه د رسول سره مينه لري، او الله او رسول يې له هغه سره مينه لري»، وايې: خلکو شپه پداسې حال کې سبا کړه چې هر يو د دې تمه درلوده چې چاته به ورکول کيږي، نو کله چې خلکو سهار کړ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغلل، هر يو يې تمه درلوده چې بيرغ ورکړل شي، نو هغه وفرمايل: «علي ابن ابي طالب چېرته دی؟» ورته وويل شو: هغه د خپلې سترګې څخه شکايت کوي، ويې ويل: «هغه ته يو څوک وروليږئ» نو راوستل شو، رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په سترګو کې لياړې تو کړې او دعا يې ورته وکړه، نو داسې روغ شو لکه هېڅ ناروغي يې چې نه درلوده، نو بيرغ يې ورکړ، علی وويل: اې د الله رسوله، آيا تر هغه ورسره وجنګيږم چې تر څو زموږ په څېر شي؟ نو هغه وفرمايل: په طبيعت دې ولاړ شه تردې چې د هغوی سيمې ته ورسيږې، بيا هغوی اسلام ته راوبله او د الله تعالی پر واجب حق يې خبر کړه، قسم په الله که چېرته ستا له امله الله يو سړي ته لار وښيي دا درته له سرو اوښانو غوره ده».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته سبا ورځ د خيبر پر يهودانو د مسلمانانو د بريا خبر ورکړ، د يوه سړي په لاس چې بيرغ به ورکوي، هغه بيرغ چې لښکر به يې د ځان لپاره نښانه ګرځوي، او د ده سړي له صفتونو څخه يو دا دی چې د الله او رسول سره يې مينه لري او الله او رسول يې هم ورسره مينه لري، نو صحابه کرامو شپه په بحث او خبرو تېره کړه چې بيرغ به چا ته ورکول کېږي؟ د دې ستر وياړ په هيله، کله چې سهار شو نو دوی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ورغلل، ټولو هېله درلوده چې دا لوی شرف وګټي، نو هغه صلی الله عليه وسلم د علي بن ابي طالب رضي الله عنه پوښتنه وکړه ؟ ورته وويل شول: ناروغ دی او له سترګو نه شکايت کوي. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وريسې خلک ورولیږل او رايې ووست، نو خپلې مبارکې لياړې يې د هغه په سترګو کې تو کړې او دعا يې ورته وکړه، نو داسې له ناروغ څخه روغ شو لکه بيخي چې ناروغ شوی نه وي، نو بېرغ يې ورکړ، او سپارښتنه يې ورته وکړه چې په نرم سره حرکت وکړي تر دې چې د دښمن قلعې ته ورسيږي، نو په اسلام کې د داخيلېدو وړانديز دې ورته وکړي، که وړانديز يې ومنلو بيا دې د هغو فرايضو په اړه خبر ورکړي چې کول يې په هغوی لازم دي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته د دعوت فضيلت بيان کړ، او دا چې يو بلونکی کله د يو چا د هدايت سبب شي نو دا ورته د سرو اوښانو نه غوره ده، کوم چې د عربو تر ټولو ارزښتمن مالونه دي، نو داسې به شي لکه دا يې چې خاوند وي او يا يې د الله په لار کې خيرات کړي وي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee